


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## صيام الدين « پسرلی »

د نشر نيټه : 26 جنوری 2015 م

# د قانون او حقوقو تر منځ فرقونه



له ډېرو محصلينو سره دا پوښتنه وي، چې د قانون او حقوقو تر منځ کوم پير شته او کنه؟ که وي نو کوم توپيرونه به وي.؟

هو د حقوق او قانون تر منځ توپير شته او دا توپيرونه په لاندې ډول دي.

اول په تعريف کې لوی توپير ليدل کيږي.

**قانون:**

هغه مصوبه چې د ملي شورا د دواړو جرګو ( مشرانو جرګې او اولسي جرګې) له لورې تصويب او د اولسمشر له لورې توشيح شوی وي قانون بلل کيږي .

او يا قانون هغه صريح، معقول او الزامي امر دی، چې د واکمن مقام له لورې وضع کيږي.

موخه او هدف يې د ټولنې لارښوونه وي قانون بلل کيږي .

او يا هم هغه معقول او صريح تجويز، چې د واکمن مقام له لورې وضع کيږي او تطبيق يې جبري شکل ولري قانون بلل کيږي .

نو قانون د قواعدو هغه مجموعي ته ويل کيږي، چې د  ذيصلاح مرجع يعنی دولت له خوا په تصويب رسيدلی وي، او که دولت تصويب نه  کړي قانون نه شميرل کيږي.
خو بيا-

**حق:**
عبارت  له هغه سلطی، امتياز او اقتدار څخه دی چې يو شخص يی د نورو اشخاصو او اشياوو په وړاندې لري او د قانون له خوا حمايه کيږي .

**حقوق : حقوق عبارت د يو سلسله قواعيدو څخه دی چی  انساني ژوند د ټولني په داخل کی رهبري کوي .**

که د دواړو تاريخي سير ته پام وکړو نو حق يا حقوق  د قانون څخه ډېر پخوا د انسان د پيدايښت سره سم رامنځته شوي. مثلاً د ژوند حق، د هستوګنې حق او نور... ان تر دې چې د دولت نه مخکې طبعي حقوق موجود و او په ټولنه کې د عدالت د تامين لپاره او د تجاوز د مخنيوي لپاره طبيعی حقوقو څخه کار اخيستل کيده.
د لغوي معنی له مخې هم توپير لري.

**قانون: مقياس او اندازه کولو ته وايی**
خو
**حقوق: ثابت، ربښتيا، د باطن په ضد مبارزه او د الله نوم دی**

د ثابتوالي له مخې هم توپير لري .
قانون: تغير منونکی دی، يعني قانون انعطاف پزير دی، د وخت په تيرو سره قانون بدليږي او يا قانون ډېر زر تغير کوونکی دی.

د مثال په ډول موږ د افغانستان دولت يادوو، ددې امکان شته چې دغه اوسنی رژيم ړنګ او پر ځای يې بل رژيم  وټاکل شي، نوي رژيم کولای شي، چې په قانون کې تغيرات راوړي يا – د افغانستان په اوسنی قانون کې داسې راغلي، چې ولسمشر نه شي کولای چې د دريم ځل لپاره ځان کانديد کړي، خو که  لويه جرګه جوړه شي او وغواړي چې ولسمشر د دريم او څلورم ځل لپاره بيا وټاکل شي. دا کار شوني ده.
خو
**حقوق ثابت دی، انعطاف پزير نه دی، لکه د ژوند کولو حق يا د ازادي حق دې ته ورته نور طبيعی حقوق پکې شامل دي.**

**قانون د حقوقو د چتر لاندې دی او يا هم د حقوقو يوه برخه ده.**

**قانون د حقوقو محافظ يا ساتونکي ده.**

****

صيام الدين « پسرلی »
افغانستان ــ ننګرهار

بازګشت به صفحه اصلی  ــ  www.said-afghani.org